Australian Government
Department of Health

**د عمر لرونکیو پاملرنې سکتور کې د COVID-19 لخوا اغیزمن شوي کسانو لپاره د غم او صدمه (تراوما) ملاتړ**

د آسټرالیا حکومت د آسټرالیا د عمر لرونکي پاملرنې سکتور لپاره د غم، زیان او صدماتو (تراوما) ملاتړ چمتو کولو لپاره خدمات تمویلوي. خدمات د عمر لرونکي پاملرنې اوسیدونکیو، د کور پاملرنې ترلاسه کونکي، د دوی عزیزانو او د عمر لرونکي پاملرنې کارکوونکیو لپاره شتون لري. تاسو کولی شئ دا خدمات پخپله وکاروئ، یا خپلو عزیزانو او ټولنو ته د دې په اړه خبر ورکړئ.

دا د هرچا د کارولو لپاره وړیا دي.

دا ټول ارګانونه د خلکو کلتور، مذهب، هویت او ژوند ته درناوی لري. که تاسو یا کوم بل څوک کوم ترجمان ژباړونکي ته اړتیا لرئ، په **131 450** د ژباړنې او ترجمانی خدمت ته تلیفون وکړئ. خپله ژبه او هغه خدمت وغواړئ چې غواړئ ورسره وصل شئ.

**د غم او زیان لپاره ملاتړ**

**د تلیفون له لارې مشوره:**

د غم او خفګان لپاره د آسټرالیا مرکز (Australian Centre for Grief and Bereavement) د عمرلرونکیو د پاملرنې کارکونکیو، د عمرلرونکیو پاملرنې چمتو کونکیو، مذهبي او ټولنېزو ډلو سره مرسته کوي ترڅو د خپلې ټولنې په غم او زیان کې د COVID-19 له امله ملاتړ وکړي. د خپلې ټولنې سره د مرستې په اړه د مشورې لپاره **1800 222 200** ته تلیفون وکړئ.

کله چې تاسو زنګ ووهئ، تاسو کولی شئ د هغوی سره د هغه څه په اړه وغږیږئ چې تاسو او خپلو خپلوانو ته د ملاتړ لپاره ورته اړتیا لرئ. پدې کې د ډلېزې مشورې کول یا یو په یو د مشورې ناستې یا په شخصي ډول د مشاورینو سره د تلیفون له لارې صحي مشورې (د تلیفون یا ویډیو کنفرانس له لارې) شامل کیدی شي.

د غم او خفګان لپاره د آسټرالیا مرکز دوه ژبني کارکوونکي لري چې د مراجعینو سره په عربي، چک، فارسي، فرانسوي، ایټالوي، جاپاني، مالټیز، سنهاله، تامیل، هسپانوي او یدیشي ژبو کار کوي. کله چې تاسو زنګ ووهئ خپله ژبه وغواړئ. د نورو ژبو لپاره، لومړی **131 450** ته د ژباړې او ترجماني خدمت ته زنګ ووهئ او د غم او خفګان لپاره د آسټرالیا مرکز غوښتنه وکړئ.

د غم او خفګان لپاره د آسټرالیا مرکز همداراز د اوریدلو د معلولیت لرونکیو خلکو لپاره د آسلان (Auslan) کارولو ملاتړ کوي.

**د ډیمنشیا ملاتړ:**

د ډیمنشیا ملاتړ آسټرالیا (Dementia Support Australia) په ټوله آسټرالیا کې 24 ساعته په کال کې 365 ورځې، مرسته چمتو کوي. دوی خلکو ته مشورې او وړاندیزونه چمتو کوي څوک چې د ډیمنشیا په ناروغۍ اخته شوي کس پاملرنه کوي. دوی ته د **1800 699 799** په شمېره تلیفون وکړئ. که تاسو یا ستاسو کوم اشنا ژباړونکي ته اړتیا لرئ، د ژباړنې او ترجمانی خدمت ته په **131 450** تلیفون وکړئ او د ډیمنشیا ملاتړ آسټرالیا غوښتنه وکړئ.

**وکالت، دفاع (Advocacy):**

د زړو خلکو مدافع شبکه په آسټرالیا (The Older Persons Advocacy Network) کې د عمر لرونکي پاملرنې وکالت خدمات وړاندې کوي. که تاسو د عمر لرونکي پاملرنې خدماتو سره چې تاسو یې ترلاسه کوئ ستونزه لرئ، نو دوی مرسته کولی شي. د زړو خلکو د مدافع شبکه زاړو خلکو، د هغوی کورنیو او استازو ته وړیا، محرم، خپلواکه دفاع، مالومات او تعلیم چمتو کوي. دوی ته په **1800 700 600** تلیفون وکړئ. که تاسو یا کوم اشنا مو ژباړونکي ته اړتیا لرئ، په **131 450** د ژباړنې او ترجمانی خدمت ته تلیفون وکړئ او د زړو خلکو د مدافع شبکې غوښتنه وکړئ.

**د COVID-19 په اړه نور مالومات**

دا مهمه ده چې د رسمي سرچينو له لارې با خبره پاتې شئ. health.gov.au ته مراجعه وکړئ يا د کورونا ويرس ملاتړي ملي کرښې ته په **1800 020 080** زنګ ووهئ. د ژباړنې او ترجمانی خدمت ته په **131 450** زنګ ووهئ او د کورونا ويرس ملاتړي ملي کرښې غوښتنه وکړئ.